

# د امیرِ اھلِسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د علمائے کرامو سره محبت

26ve Ramadan ul Mubarak 1446H

د امیراھلِسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د ولادت د
ورځې د اجتماع بیان

(For Islamic Brothers)

(په 26 مارچ، کال 2025ء/ رَمَضَانُ الْمُبَارَک شریف کال 1446ھ شپږ ویشتمه شپه (د چارشنبې او د زيارت ترمينځه شپه)

د امیر اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د ولادت د ورځې د اجتماع بيان

# د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د علمائے کرامو سره محبت

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د علمائے کرامو سره محبت---!! د خير علامت---!!
- د رشک قابل خلق
- پهٔ محمودِ غزنوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه باندې کَرم وشو
- د علماؤ سره محبت به څنګه نصيب کيږي؟

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

اِنِّیْ رَاَیْتُ الْبَارِحَةَ عَجَبًا وَرَاَیْتُ رَجُلًا مِنْ اُمَّتِیْ یَزْحَفُ عَلَى الصِّرَاطِ مَرَّةً وَیَحْبُوْ مَرَّةً فَجَاءَتْهُ صَلَاتُهُ عَلَیَّ فَاَخَذَتْ بِیَدِهٖ فَاَقَامَتْهُ عَلَى الصِّرَاطِ حَتّٰى جَاوَزَ۔ (1)

**ترجمه:** ما تیره شپه ډیره عجیبه واقعه ولیدله: زما یو اُمَّتي په پلِ صراط باندې کله په خوئیدلو او کله په زنګونانو باندې روان وو، په دې کښې هغه درود راغلو کوم چې هغهٔ په ما باندې لوستلے وو، درودِ پاک هغهٔ د لاس نه ونیولو او هغهٔ یې ودرولو تر دې پورې چې په پلِ صِراط باندې یې واړولو۔

**د حدیث شرح:** درودِ پاک هغهٔ په پلِ صِراط واړولو او جنَّت ته یې داخل کړو۔ (2)

سَلِّمْ! سَلِّمْ! کی ڈھارس سے پُل پر ہم کو چلاتے یہ ہیں

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1...الاحادیث الطوال للطبرانی، صفحه:8584ملتقطاً۔

2...التيسير بشرح جامع الصغير، جلد:1، صفحه:370۔

# د بیان اوریدلو نیتونه

پۀ **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نیتونو دے۔ [1]

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پۀ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِیَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❁ د **الله پاک** د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❁ پۀ اَدب به کښینم ❁ ښۀ پۀ توجُّه به بیان اورم ❁ څۀ چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د امیرِ اھلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د علمائے کرامو سره محبت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د پینځلسمې صدۍ عظیم علمي او روحاني شخصیت، شیخِ طریقت، امیرِ اھلِسُنَّت، د دعوتِ اِسلامي باني، حضرت محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د علمائے کرامو سره ډیر محبت کوي، د امیرِ اھلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د علمائے کرامو سره دومره محبت دے چې هغوئي فرمائي: پۀ **الله پاک** مې دې قَسم وي چې د دوئي نه بغیر مونږ د هیڅ کار نۀ یو، چې د دوئي پۀ ښپو کښې پراتۀ یو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د نجات څۀ حل به راووځي[2] نور فرمائي: علمائے کرامو ته زمونږه نۀ بلکې مونږ ته د علمائے کرامو ضرورت دے بلکې خپلو متعلقینو ته پۀ نصیحت کولو فرمائي: **که د علمائے کرامو لَمَن مو پریښودله نو بے لارې به شئ۔**[3]

ہم کو اے عطّار سنّی عالموں سے پیار ہے | اِنْ شَآءَ الله دو جہاں میں اپنا بیڑا پار ہے

1...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

2...امیر اہلسنت کی دینی خدمات، صفحہ:324۔

3...امیر اہلسنت کی دینی خدمات، صفحہ:324۔

د دې څۀ وجه ده چې امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د علمائے کرامو سره دومره محبت کوي، د هغوئي د عزت او تعظيم کولو دومره حکم ارشاد فرمائي_؟؟

هغوئي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: ځکه چې ❁ دا هُم علمائے کرام دي کوم چې د انبیائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام حقيقي وارثان او جانشين دي: د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد مبارک دے: اِنَّ الْعُلَمَاءَ وَرَثَةُ الْاَنْبِيَاءِ بے شکه هُم علماء د انبياؤ وارثان دي[1] ❁ هُم دا علمائے کرام دي کوم چې خلق د دِينِ اِسلام طرف ته راغب کوي ❁ هُم دا علمائے کرام دي کوم چې د مسلمانانو د عقيدو حفاظت کوونکي دي ❁ هُم دا علمائے کرام دي کوم چې پۀ صحيح معنو کښې د الله پاک او د هغۀ د حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پيژندګلو لرونکي دي ❁ هُم دا علمائے کرام دي کوم چې د صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضْوَان ادب ښودونکي دي ❁ هُم دا علمائے کرام دي کوم چې د اهلِ بيت رَضِيَ اللهُ عَنْهُم د محبت سبق ښودونکي دي ❁ هُم دا علمائے کرام دي کوم چې د مسئلو شرعي حل راويستونکي دي ❁ هُم دا علمائے کرام دي کوم چې د طهارت او نجاست مسئلې ښودونکي دي ❁ هُم دا علمائے کرام دي کوم چې د پاکۍ او پليتۍ فرق ښودونکي دي ❁ هُم دا علمائے کرام دي کوم چې د غسل، کفن، دفن مسئلې ښودونکي دي ❁ د مدرسو او د جامعاتو او د جوماتونو چلوونکي هم علمائے کرام دي- هم دا وجه ده چې زۀ نۀ يواځې پخپله د علمائے کرامو د ادب او احترام سعادت حاصلووم بلکې نورو ته هم د دې تلقين کووم-[2]

هم کو اے عطار سنی عالموں سے پیار ہے | اِنْ شَآءَ الله دو جہاں میں اپنا بیڑا پار ہے

[1]...ابن ماجہ، مقدمہ، صفحہ:49، حدیث:223۔
[2]...امیر اہلسنت کی دینی خدمات، صفحہ:323-324 بتصرف۔

# د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه مختصر تعارف

اَللّٰهُ اَکۡبَر! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! خومره ښکلے شان دے زمونږه د امیرِ اهلسُنّت–؟ **اللّٰه پاک** دې پهٔ مونږ باندې د هغوئي سورے تر ډیرې مودې پورې سلامت لري- راځئ چې د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه د مختصر تعارف نه ځان خبر کړو:

امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه پهٔ 26 رَمَضَانُ الۡمُبَارَک شریف کال 1369ھ بمطابق 12 جولائي کال 1950ء د چارشنبې [یعني شروع] پهٔ ورځ د پاکستان پهٔ مشهور ښار کراچۍ کښې د ماښام نه لږ وخت مخکښې دُنیا ته تشریف راوړلو ❁ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه هُم د ماشومتوب نه ډیر د ساده طبیعت مالِک دے، نهٔ چا ته بد وائي او نهٔ جګړه کوي ❁ د دِیني رجحان پهٔ وجه یې هم پهٔ زلمي توب کښې عِلم دِین حاصل کړے وو- هغوئي د عِلم حاصلولو پهٔ ذریعو کښې کتابونه لوستل او د علمائے کرامو پهٔ صحبت کښې کښیناستل اختیار کړل- دې لړ کښې هغوئي پرله پسې تر 22 کالو پورې د مفتئ اعظم پاکستان حضرت علامه مفتي وقار الدین قادري رضوي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه پهٔ صحبت کښې حاضر وو ❁ مفتي وقارُ الدِّین رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه او د بخاري شارِح، مفتي شریف الحق امجدي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه هغوئي ته خلافت عطا کړے دے ❁ پهٔ ستمبر کال 1981ء کښې امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه د عاشقانِ رسول دِیني تنظیم **دعوتِ اِسلامي** شروع کړو، اګر چې هغوئي مخکښې هم د نیکۍ دعوت ورکولو خو چې کله **دعوتِ اِسلامي** پهٔ باقاعده توګه شروع شو نو د هٔغه وخت نه امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه د نیکۍ د دعوت ورکولو باقاعده سلسله شروع کړه ❁ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه دا مَدَني مقصد اختیار کړو چې **ما ته د ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي** بیا د دې مَدَني مقصد د پاره نهٔ هغوئي ورځ ته وکتل او نهٔ یې شپې ته وکتل، پرله پسې یې کوشش کولو، کوشش کولو، تر دې پورې چې د **اللّٰه پاک** کرم وشو، د خوږ حبیب صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کرم پهٔ

نظر او د اولیائے کرامو رَحِمَہُمُ اللہُ عَلَیۡہِم پۀ فیضان سره د دعوتِ اِسلامي دِیني پیغام پۀ ټوله دُنیا کښې عام شو ❁ هغوئي به د لرې پرتو علاقو سفر کولو ❁ پۀ یوه ورځ کښې به یې ډېر بیانونه کول ❁ جومات جومات، کلي کلي، ښار ښار ته به یې تشریف وړلو ❁ خلقو له به یې د نیکئ دعوت ورکولو ❁ چې چرته به مړے وشو نو د مسلمانانو د غم خورئ، زړۀ ساتنې او ښیګړې د جذبې لاندې به یې مړي له پۀ خپلو لاسونو باندې غسل ورکولو، کفن به یې ورته اچولو، جنازه به یې ورله کوله ❁ د غم او د خوشحالئ پۀ موقع باندې به یې د مسلمانانو داسې زړونه ساتل چې هغوئي به هم د نیکئ د دعوت عام کولو د پاره د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَہ د سفر ملګرې جوړ شول۔

د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَہ د پرله پسې کوششونو پۀ وجه ❁ کوم چې بے نمانځه وو نمونځ ګزاره جوړ شول بلکې د جوماتونو امامان جوړ شول ❁ بد نظر کوونکي حیادار جوړ شول ❁ مور پلار تنګوونکي ادب کوونکي جوړ شول ❁ غلا کوونکي، ډاکوان راغلل، توبه یې کړه، غلا، ډاکې یې پرېښودلې او د معاشرې شریف انسانان جوړ شول ❁ د حسد پۀ وور کښې سوزېدونکي شُکر ګزاره او خیر خواه جوړ شول ❁ د فلمونو او د سندرو شوق لرونکي د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نعت لوستونکي او اورېدونکي جوړ شول ❁ د دُنیا د ګنده ګناهونو پۀ عشق کښې ګرفتار، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د زلفو مئینان جوړ شول ❁ پۀ مال او دولت پسې منډې وهونکي د **الله پاک** د رضا طلب ګاران جوړ شول ❁ شرابیان راغلل، توبه یې کړه او پاک انسانان جوړ شول ❁ غافله راغلل او عبادت ګزاره جوړ شول ❁ د بے لارې شوو نیغه لار نصیب شوه ❁ د زرګونو کافرانو د اِسلام نعمت نصیب شو۔ داسې یو یو دوه دوه راتلل، د نیکئ د دعوت پۀ دې سفر کښې د هغوئي سره شاملېدل، قافله جوړېدله او اَلْحَمْدُلِلّٰه! د نیکئ د دعوت

دا دِیني پیغام ټولې دُنیا ته ورسیدلو-

اے امیرِ اہلسنت تیری شوکت زندہ باد
تجھ سے دُنیا بھر میں ہے دِیں کی اِشاعت زندہ باد
تیرے دم سے آئی وہ دین و شریعت کی بہار
اعلیٰ حضرت زندہ اور صدرِ شریعت زندہ باد
تیری مجلس میں گئے جو بن گئے صالح سعید
نوجواں پر ہو ترا فیضانِ صحبت زندہ باد
گوشہ گوشہ دنیا کا ہونے لگا ہے فیض یاب
عام ہر سُو ہو گیا فیضانِ سُنَّت زندہ باد[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د عالِم محبت دِین دے

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** مونږه واوریدل چې مرشد امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د علمائے کرامو سره څومره محبت کوي، مونږ له هم پکار دي چې مونږه هم د علمائے کرامو سره محبت وکړو، د هغوئي عزت او تعظیم وکړو، ځکه چې د هغوئي د دې محبت پهٔ وجه بنده دِین ته نزدې کیږي، هُم د عِلم والؤ سره د محبت پهٔ وجه انسان د هغوئي پهٔ محفلونو کښې د شرکت کولو عادت لرونکي جوړ شي د کومې برکت چې دا ظاهریږي چې پهٔ دِین پوهیدل شروع شي، بنده نیک نمونځ ګزاره جوړ شي-

د مسلمانانو څلورم خلیفه حضرت علي المُرتضیٰ شیرِ خُدا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: مَحَبَّةُ الْعَالِمِ

[1] ...مناقب عطار، صفحه:1615-

دِیْنٌ یُّدَانُ بِہٖ یعنې د عالِم سره محبت دِين دے او دا محبت بنده دِين ته نزدې کوي-[(1)]

## د هلاکت يو سبب

اے د علمائے کرامو سره محبت کوونکو! هُم د عِلم والؤ پۀ محبت کښې د دِين او د دُنيا خير دے، که مونږ د دوئي سره محبت وکړو، دوئي ته نزدې کېږو نو د شيطانانو او د هغوئي د چلونو نه به خبر يو خو که مونږه د عِلم والؤ لمن پرېښودله نو هلاک به شو، او د دې د هلاکت نقصان به مونږ ته پۀ دِين او دُنيا دواړو کښې پورته کول وي-

د حضرت ابو درداء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه منقول دي: هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: ❁ يخپله عالِم جوړ شۀ ❁ يا بيا طالبِ عِلم جوړ شۀ ❁ د هغوئي سره محبت کوونکے جوړ شۀ ❁ يا د هغوئي تابعدار جوړ شۀ- **پينځم مۀ جوړيږه کني هلاک به شې**- حضرت حسن رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ (چا چې د ابو درداء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دا خبره بيان کړه د هغوئي) نه پوښتنه وکړے شوه چې هلاکيدونکے څوک دے؟ نو هغوئي وفرمائيل: هغۀ بدعتي دے-[(2)]

معلومه شوه چې څوک د عِلم والؤ سره د بغض پۀ وجه محبت نۀ کوي نو هغۀ بدعتي دے او بدعتي ګس به **اللّٰه پاک** ذليله او رسوا کړي- **اللّٰه پاک** پۀ قرآنِ کريم کښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ الَّذِیۡنَ اتَّخَذُوا الۡعِجۡلَ سَیَنَالُہُمۡ غَضَبٌ مِّنۡ رَّبِّہِمۡ وَ ذِلَّۃٌ فِی الۡحَیٰوۃِ الدُّنۡیَا ؕ وَ کَذٰلِکَ نَجۡزِی الۡمُفۡتَرِیۡنَ ﴿۱۵۲﴾ (پاره:9، سورۀ اعراف:152) | ترجمۀ کنزُ العِرفان: بے شکه کومو خلقو چې سخے (معبود) جوړ کړو، نزدې ده چې هغوئي ته به د دُنيا پۀ ژوند کښې د هغوئي د رب غضب او ذِلّت رسيږي، او مونږه بُهتان [تور] لګوونکو ته هُم داسې بدله ورکوو- |

1...الجلیس الصالح الکافی والانیس الناصح الشافی، صفحہ:584۔

2...المدخل الی سنن الکبری للبیہقی، جز:1، صفحہ:344-345، حدیث:381۔

**پۀ تفسیر صِراطُ الـجنان کښې دي:** حضرت سفیان بن عیینه رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: دا سزا تر قیامته پورې د راتلونکي هر یو بدعتي پۀ باره کښې ده- حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: هر یو بدعتي به د خپل سر د پاخه ذلت بیاموي بیا یې دا آیت تلاوت کړو-[1]

محفوظ سدا رکھنا شہا بے ادبوں سے | اور مجھ سے بھی سرزد نہ کبھی بے ادبی ہو

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د علمائے کرامو سره محبت---!! د خیر علامت---!

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د امیرِ اھلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِیَہ به د علمائے کرامو سره د محبت څۀ وایو هغوئي فرمائي: ❁ د عالِمِ دِین د پاره زما پۀ زړۀ کښې محبت او عزت دے ❁ **الله پاک** دې توفیق راکړي چې مونږه عالمان جوړ شو کۀ نۀ نو چې د هغوئي سره محبت وکړو-[2]

یاد ساتئ چې د سُني علمائے کرامو سره محبت د خیر او د نیکۍ علامت دے- امام قُتَیبَه بن سَعید رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: اِذَا رَاَیْتَ الرَّجُلَ یُحِبُّ اَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ فَاعْلَمْ اَنَّهٗ صَاحِبُ سُنَّةٍ وَجَمَاعَةٍ یعني چې کله تۀ خوک داسې کَس ووینې کوم چې د امام احمد بن حنبل رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ سره محبت کوي نو پوهه شۀ چې هغۀ د اهلسُنَّت و جماعت نه دے-[3]

**الله! الله!** څه شان دے د علمائے کرامو چې څوک دوئي سره مَحبّت کوي نو په دُنیا او آخرت کښې سعادت شي. یو کس د وفات نه پس چا په خوب کښې ولیدو نو تپوس یې ترینه وکړو چې: مَافَعَلَ اللّٰهُ بِكَ یعني **الله** پاک تا سره څه وفرمائیله؟ هغه اُووئیل چې زه **الله** پاک

1...صراط الجنان، پارہ:9، سورۂ اعراف، زیرِ آیت:152، جلد:3، صفحہ:439۔
2...امیرِ اہلسنت کی دینی خدمات، صفحہ:325ملتقطاً۔
3...الجرح والتعدیل لابن ابی حاتم، جلد:1، صفحہ:308۔

اوبخښلم. تپوس يـې ترې وکړو چې **الله** پاک ته په څه وجه اوبخښلې. هغه جواب ورکړو چې د حضرت امام احمد بن حنبل سره د مَحبّت لرلو په وجه.(1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره محبت

امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه خو هسې د هر يو عاشقِ رسول عالِم سره محبت کوي خو د اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره د هغوئي محبت ډير زيات دے۔

هغوئي فرمائي: اَلْحَمْدُلِلّٰه! هم د ماشومتوب نه مې اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پيژندلے وو۔ بيا چې ورو ورو څنګه شعور راتللو نو د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه محبت مې په زړۀ کښې کور کولو۔ زۀ بغير د ويرې او ترديد نه دا خبره کووم چې **الله پاک** د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ ذريعه باندې وپيژندلے شو۔ نو ما خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د امام اَحمد رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ سبب وپيژندلو۔(2)

اعلیٰ حضرت سے ہمیں تو پیار ہے | ان شاء اللہ اپنا بیڑا پار ہے

## الله پاک د عِلم والا سره محبوب لري

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مونږ له هم د اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بلکې د هر عاشقِ رسول عالِم سره محبت کول پکار دي۔ ولې به يـې نۀ کوو--!! چې **الله پاک** هغوئي محبوب ساتي۔ **پۀ روايت کښې راځي**: **الله پاک** حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي

1...الجرح والتعدیل لابن ابی حاتم، جلد:1، صفحہ:308۔

2...تعارف امیر اہلسنت، صفحہ:61-61۔

وفرمائیله چې اے ابراهیمه (عَلَیہِمُ السَّلام)! اِنِّیْ عَلِیْمٌ اُحِبُّ کُلَّ عَلِیْمٍ زما صِفت دے، او زۀ د هر یو عِلم لرونکي سره محبت کووم- (1)

## د رَشک قابل خلق

الله! الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د علمائے کرامو د محبت به څۀ وایو--!! دا هُغه پاک محبت دے کوم چې به اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! جنَّت ته د تللو ذریعه جوړه شي- آؤ جي! دا رښتیا خبره ده، حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: یو کَس بارګاهِ رسالت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته حاضر شو، عرض یـې وکړو: مَتَی السَّاعَةُ ؟ یعني یَا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! قیامت به کله راځي؟ (یقیناً چې زمونږه د آقا و مولیٰ، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د قیامت عِلم شته، هغوئي ته معلومه وه چې قیامت به کله راځي، ځکه خو نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د قیامت نخښې بیان کړلې، قیامت به پۀ کومه ورځ باندې راځي، دا یـې هم ووئیل، پۀ کوم تاریخ به راځي، دا یـې هم ووئیل- آؤ! صرف کال یـې اونه ښودلو، ځکه چې د کال د ښودلو اجازت نۀ وو، نو صحابئ رسول رَضِیَ اللہُ عَنْہُ چې کله پوښتنه وکړه چې قیامت به کله راځي؟ نو) رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي د خبرې د جواب ورکولو پۀ ځائے وفرمائیل: وَمَاذَا اَعْدَدْتَ لَهَا؟ تا د قیامت د پاره څۀ تیارے کړے دے؟

(صحابۀ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان به یقیناً چې نـمونځونه هم کول، تلاوت به یـې هم کولو، روژې به یـې هم نیولې، پۀ نیکو پسې به یـې نیکۍ هم کولې خو د صحابئ رسول رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مبارک انداز دے، چې هغوئي پۀ یوه نیکۍ هم باور ونـکړو، بلکې پۀ عاجزۍ کولو یـې) عرض وکړو: لَاشَيْءَ یعنې یَا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! ما هیڅ تیارے ونـکړے شو (نـمونځونه خو دي، نیکۍ خو

1...جامع بیان العلم وفضله، جلد:1، صفحه:209، حدیث:236۔

دي خو پۀ هغې باندې مې باور نشته، که **الله پاک** وغوښتل نو قبولې به يې کړي، که نۀ يې غواړي نو نۀ به يې قبلوي) اِلَّا اَنِّیْ اُحِبُّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ (البته زما سره يو دولت دے او د قيامت د پاره زما سره هم دغه ملاتړ دے او هغه دا چې) زۀ د **الله پاک** او د هغۀ د خوږ **محبوب** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره محبت کووم-

رسولِ اکرم، نورِ **مُجَسَّم** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې دا واوريدل نو اوئې فرمائيل: اَنْتَ مَعَ مَنْ اَحْبَبْتَ يعني تۀ چې د چا سره محبت کوې، د قيامت پۀ ورځ به د هغۀ سره يې-[1]

پوچھے گا مولٰی لایا ہے کیا کیا؟ | میں یہ کہوں گا، نامِ مُحَمَّد (2)

سُبْحٰنَ الله! د دې حديثِ پاک نه معلومه شوه چې پۀ دُنيا کښې چې انسان د چا سره **محبت** کوي، د قيامت پۀ ورځ به هم د هغۀ سره وي- اوس غور وکړئ چې څومره خوش قِسمته دي هٔغه خلق ❁ کوم چې د علمائے کرامو د سردار امام اعظم ابو حنيفه رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه سره **محبت** کوي ❁ څوک چې د مفتيانو د سردار شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه سره **محبت** کوي ❁ څوک چې د اهلسُنَّت د سر تاج امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه سره **محبت** کوي ❁ څوک چې د اهلسُنَّت د ټولو علمائے کرامو سره **محبت** کوي ❁ سبا د قيامت پۀ ورځ باندې به رَبِّ کائنات هغوئې هُم د دغه علمائے کرامو سره ساتي ❁ د دوئي سره به يې حشر هم وي او ❁ که **الله پاک** وغوښتل نو هم پۀ دوئي پسې به شاته شاته جنَّت ته هم لاړ شي-

آل و اصحاب سے محبّت ہے | اور سب اولیا سے اُلفت ہے
یہ سب اللہ کی عنایت ہے | مل گئی مصطفٰے کی اُمّت ہے
غوث و خواجہ کی دِل میں اُلفت ہے | قلب میں عشقِ اعلٰی حضرت ہے

[1]... بخاری، کتاب فضائل اصحاب النبی، باب مناقب عمر بن الخطاب...الخ، صفحه:934، حديث:3688۔

[2]... قبالۂ بخشش، صفحه:135۔

مرحبا! اپنی خوب قسمت ہے | پیر و مرشد کی دِل میں چاہت ہے(1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

# د بخاري د شارح رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه سره د امیرِ اھلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِيَه محبت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** لکه څنګه چې مونږه واوریدل چې امیرِ اھلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِيَه د علمائے کرامو سره ډیر محبت کوي، امیرِ اھلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِيَه د هغوئي پۀ عزت او تعظیم کښې هیڅ کمے نۀ راولي-

یو ځل هغوئي ته معلومه شوه چې حضرت فقیه اعظم هند حضرت علامه مولانا مفتي شریف الحق امجدي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کراچۍ ته تشریف راوړے دے، امیرِ اھلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِيَه د اهلسُنَّت علمائے کرامو سره محبت کوي ځکه چې حضرت کوم ځائے تشریف فرما وو هم هلته یې فوراً تشریف یوړلو- د بخاري د شارح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره یې ملاقات وکړو، چې تر څو پورې امیرِ اھلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِيَه د حضرت شارح بخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ بارګاه کښې حاضر وو نو مسلسل د التحیات پۀ شکل کښې لاس پۀ نامه د ادب پۀ انداز ناست وو-

بیا چې حضرت شارح بخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د امیرِ اھلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِيَه کور ته د ورځې تشریف راوړلو نو هغه منظر هم د لیدلو قابل وو- هغوئي او موجودو اِسلامي ورونړو د هغوئي د ښپو ښکلولو سعادت حاصل کړو- د بخاري شارح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه او د هغوئي سره راغلو اهلسُنَّت علمائے کرامو ته یې پۀ خپلو لاسونو باندې طعام وړاندې کړو او چې کله د رخصتیدو وخت راغلو نو د علمائے کرامو پۀ تعظیم کښې ښپې ابله ښپې د هغوئي سره تر ګاډي پورې پخپله بهر راغلو-

عطرِ سُنّت بانٹتا ہے اے مرے عطار تو | اہلسنت کے لئے ہے صاحِبِ شاہکار تُو

1...وسائلِ بخشش، صفحه:684-

| | |
|---|---|
| ساری دُنیا کے کناروں سے صدا آنے لگی | بن چکا ہے عاشقوں کا قافلہ سالار تُو |
| اَہلِ شَر غوغا کریں، اَہلِ سُنَن کو غم نہیں | فتنۂ باطِل کی رہ میں بن گیا دِیوار تُو |
| بدرؔ نے اس عہد میں دیکھا نہ تجھ سا دُوسرا | تُو دھنی ہے قول کا اور صاحِبِ کردار تُو |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اسلافو د علمائے کرامو سره محبت

**اے د امیر اهلِسُنَّت** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه **عاشقانو!** د امیرِ اهلِ سُنّت د علمائے کرامو سره دومره محبت زمونږ د مخکښينو بزرګانو د عادت عين مطابق دے۔ د الله والؤ هُم د شروع نه دا طريقه ده چې هغوئي به د عِلم والؤ سره ډير محبت کولو ❁ د کروړونو حنفيانو د عظيم پيشوا امام اعظم ابو حنيفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عِلم او د عِلم والؤ سره ډير محبت وو، د امام اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په باره کښې منقول دي چې هغوئي به د خپلې ګټې نه د محدثين کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم ضرورتونه پوره کول، د هغوئي د کور خرچه به يې پخپله کوله، بعضې علمائے کرامو له به يې نعد رقم په خپل لاس ورکولو د پاره د دې چې هغوئي پرې هُم پخپله خپل حاجتونه پوره کړي۔[1] ❁ حضرت عبد الله بن مبارک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به هم د عِلم والؤ سره ډير محبت کولو، حضرت عبد الله بن مبارک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به فرمائيل چې زۀ تجارت صرف د دې د پاره کووم چې د دې په ذريعه د علمائے کرامو خدمت وکړم، يو ځل يې حضرت فضيل بن عياض رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته د محبت په توګه ارشاد وفرمائيلو: لَوْلَا اَنْتَ وَاَصْحَابُكَ مَا اتَّجَرْتُ يعنې که تاسو او ستاسو شاګردان نۀ وے نو به ما چرې هم تجارت نۀ کولو[2] ❁ حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عِلم والؤ د پاره د بيت المال

1...مناقب امام اعظم، جز:1، صفحه:262۔
2...صفة الصفوه، جز:4، جلد:2، صفحه:126۔

نه وظیفې مقرر کړې وې۔[1]

**الله پاک** دې د دې حضراتو په وسیله زمونږه هم د علمائے کرامو سره **محبت** نصیب کړې۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## زۀ به پخپله حاضر شوے ووم

د امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د علمائے کرامو سره د محبت یوه بله واقعه واورئ! یو ځل د سندهـ ټهټهـ ښار ته د عاشقانِ رسول یوې قافلې تشریف یوړلو په کومه کښې چې د دعوتِ اِسلامي د مرکزي مجلسِ شوریٰ یو رکن هم موجود وو۔ د شوریٰ رکن هلته د حضرت مولانا ابو سراج طفیل احمد ټهټهوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه سره ملاقات وکړو او هغوئي ته یې په اجتماع کښې د شرکت کولو دعوت ورکړو، هغوئي دعوت قبول کړو او په اجتماع کښې یې د شرکت باور ورکولو سره سره په قافله کښې د سفر او د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه سره د ملاقات د خواهش اظهار وکړو۔ حضرت مولانا ابو اسراج طفیل احمد ټهټهوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د حضرت عبد الله شاه اَصحابي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مزار د جومات خطیب، د یو سُني جامعه مفتي او د شیخ الحدیث کیدلو باوجود د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه طالب هم شو۔

چې کله هغوئي امیرِ اهلِسُنَّت سره ملاقات د پاره تشریف راوړلو نو امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د هغوئي په تعظیم کښې د هغوئي لاسونه هم ښکل کړل او اوئې فرمائیل: ما خو پخپله ستاسو سره د ملاقات خواهش لرلو تاسو به ما ته حکم کړے وے زۀ به پخپله ستاسو بارګاه ته حاضر شوے ووم۔[2]

---

1...تاریخ مدینه دمشق، جلد:46، صفحه:320۔
2...1163 علمائے اہلسنت کے تاثرات، صفحه:15-16۔

اَللهُ اَکْبَر! دا څومره د عاجزۍ نه ډک انداز دے—؟؟ بلکې د دې نه زیات د دوئي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د عاجزۍ عالَم دا دے چې د دوئي په مریدانو کښې چې کوم علماء او مفتیان کرام دي د هغوئي هُم عزت کوي، هغوئي سره د محبت اظهار کوي، په مدني مذاکره کښې د هغوئي د راتلو ډیر انتظار کوي، او مدني مذاکره کښې یې ځان سره کښینوي، په مختلفو وختونو کښې هغوئي نه په مدني مذاکره کښې د تپوس شوو مسائلو په باره کښې وضاحت اخلي، بلکې یو ځل خو یې د برکت حاصلولو د پاره د دعوت اسلامي علماء او مفتان کرام کوم چې د امیرِ اهلسنّت مریدان دي، هغوئي یې د برکت د پاره خپل کور ته بوتلي وو.

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** څوک چې د **الله** پاک د پاره عاجزي کوي نو **الله** پاک هغه ته اوچتوالے عطا کوي. زمونږه خوږ آقا و مولا، د **الله پاک** اخري نبي، مکي مَدَني رسولِ هاشمي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حق فرمائیلي دي: مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ الله چې څوک د **الله پاک** د پاره عاجزي اختیار کړي **الله پاک** هغۀ ته اوچت والے عطا کوي۔[1]

امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ته **الله پاک** داسې اوچت والے عطا کړے دے چې—!!

دنیا بھر میں فضلِ ربّ سے چرچے ہیں عطا کے
بڑے بڑے گن گاتے ہیں ان کے ستھرے کردار کے

حضرت علامه مولانا بدر القادري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:

مَسلک کا تو اِمام ہے الیاس قادری | تدبیر تیری تام ہے الیاس قادری
سنت کی خوشبوؤں سے زمانہ مہک اٹھا | فیضان تیرا عام ہے الیاس قادری
ہے بدرِ رضوی بھی ترے کردار کا اَسیر | اِس کا تجھے سلام ہے الیاس قادری

[1]… معجم اوسط، جلد:6، صفحہ:145، حدیث:8307۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

# پهٔ محمودِ غزنوي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه باندې کرم وشو

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د علمائے کرامو سره محبت کول، د هغوئي د پاره د عاجزئ اظهار کول، د **الله پاک** او د هغهٔ د خوږ حبیب صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رحمت د نظر حاصلولو بهترینه ذریعه ده: **پهٔ کتابونو کښې لیکلي دي چې:** سلطان محمود غزنوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه څوک چې د خپل وخت ډیر لوئي سلطان او عاشقِ رسول تیر شوے دے- هغوئي د دریو خبرو د حقیقت نه د ځان خبرولو پهٔ کوشش کښې وو (1): وړومبی خبره دا وه چې د نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې فرمان: اَلْعُلَمَاءُ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ (یعنې عالمان د نبیانو وارثان دي) نه کوم خلق مُراد دي (2): دویمه خبره دا وه چې آیا زما د والد نوم هُم سَبُکتِگین دے یا زهٔ د بَل چا زوي یم (3): د دریمې دې خبرې نه یې ځان خبرولو چې آیا زهٔ به اوبخښلے شم او که نهٔ-

یوه شپه سلطان محمود غزنوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل لښکر سره چرته روان وو، یو خادم یې رڼا اخستې وه او د لښکر نه مخکښې روان وو-

رڼا چې یې ولیدله نو یو گس کتاب پهٔ لاس د خپل کور نه بهر راووتلو او پهٔ رڼا کښې یې خپل کتاب لوستل شروع کړل- سلطان پهٔ زړهٔ کښې سوچ وکړو چې کیدے شي دا څوک عالِمِ دِین دے، (پهٔ سلطان کښې دا خوبي وه چې هغوئي به د عِلم او د عِلم والؤ سره ډیر محبت فرمائیلو پهٔ دې وجه هغوئي) د هغهٔ عزت وکړو او لښکر یې ودرولو د پاره د دې چې هغهٔ پهٔ اطمینان سره پهٔ رڼا کښې لوستل وکړي- د لوستلو د ختمیدو نه پس چې کله هغه صاحب خپل کور ته واپس تشریف یوړلو نو سلطان د خپل لښکر سره د هغه ځائے نه رخصت شو-

پهٔ هغه شپه باندې یې بخت رابیدار شو- د شپې چې کله اوده شو نو بخت یې رابیدار شو،

پۀ خوب کښې ورته د دواړو جهانوو تاجدار، مکي مَدَني سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشریف راوړلو او قربان شم! محبوبِ کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم یوه جمله ووئیله، اوئې فرمائیل: **اے ناصِرُ الدِّینه د سَبُکتِگین زویه! زما د وارث (عالِمِ دِین) د خدمت پۀ وجه اللہ پاک تۀ بخښلے یې۔**[1]

سُبْحٰنَ الله! خومره ښکلے شان دے زما د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم –!! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د **اللہ پاک** پۀ فضل خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ژوندے هم دے، د خپل اُمَّت د حالاتو بلکې د زړۀ د خیالونو نه هم خبر دے، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته دا هم معلومه وه چې محمود غزنوي د یو عالِمِ دِین خدمت کړے دے، د هغۀ د پاره یې عاجزي اختیار کړه، او دا ورته هم معلومه وه چې د محمود غزنوي پۀ زړۀ کښې د دریو خبرو نه د ځان خبرولو خواهش دے، نو هم پۀ یوه جمله کښې یې درې واړه خبرې حل کړې **(1):** اوئې فرمائیل: اے د سَبُکتِگین زویه! د دې نه سلطان ته معلومه شوه چې زۀ واقعي چې د سَبُکتِگین زوي یم **(2):** بیا یې وفرمائیل: تا زما د وارث خدمت وکړو، د دې نه هغوئي ته معلومه شوه چې عاشقانِ رسول علمائے کرام واقعي د انبیاء عَلَیهِمُ السَّلام وارثان دي **(3):** بیا یې وفرمائیل: **اللہ پاک** تۀ بخښلے یې، د دې نه هغوئي ته معلومه شوه چې هغوئي بخښلے شوي دي۔

اُمّت کے حال سے وہ آگاہ ہر گھڑی ہیں | خوابوں میں آ رہے ہیں، بگڑی بنا رہے ہیں

سُبْحٰنَ الله! **اللہ پاک** دې مونږ ته هم د عِلم والؤ سره د محبت کولو او د هغوئي د مدد کولو توفیق راعطا کړي۔ اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د شام د عالِم سره د محبت ځانګړے اظهار

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** یو ځل د شام ملک نه تشریف راوړي د جَامِعَه اَلْمَغْرِبِيَّة دمشق

[1]… قلادة النحر في وفيات اعيان الدہر، جلد: 3، صفحه: 358 بتصرف۔

مدیر او د سلسله عالیه نقشبندیه عظیم بزرګ پیر طریقت حضرت شیخ رجب دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه کور ته د ملاقات د پاره تشریف راوړلو- امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه چې څنګه د هغوئي د راتګ نه خبر شو نو فوراً یـې د کور د دویم چت نه ښکته ښکته ابلې ښپې لاندې تشریف راوړلو او پۀ دروازه کښې یـې هغوئي ته هر کلے ووئیلو او ډیر د ادب پۀ انداز کښې یـې د ځان سره بره بوتللو- خلق حیران وو چې د پینځلسمې صدۍ عظیم علمي او روحاني شخصیت، لکونه مریدان او متعلقین چې د چا پۀ لاره کښې د عقیدت او محبت پیرزونې وړاندې کوي هغوئي د شام نه راغلي عالمان او شیوخ پۀ بره ځائے کښې کښینول او پخپله یـې عاجزي وکړه او پۀ زمکه باندې کښیناستو- د کښیناستو انداز یـې هم ډیر د ادب وو--!! د التحیات پۀ شکل کښې، نظر ښکته ناست وو-

چې کله دې حضراتو د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د خوا نه تشریف وړلو نو امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ډیر د محبت اظهار وکړو او د هغوئي سره یـې مصافحه وکړه، ورغاړه وتلو، او هغوئي له یـې تحفې ورکړلې او ښپې ابله ښپې ورسره تر دروازې پورې راغلو-(1)

تیری ہر ادا پہ پیارے مجھے کیوں نہ پیار آئے
تو انہی کی راہ پہ لائے جنہیں سب پہ پیار آئے

الله! الله! یقیناً چې د علمائے کرامو قدر هم هُغه خلق کوي چا ته چې **الله پاک** عقلِ سلیم عطا کړے وي ❀ هغوئي ته معلومه وي چې عالِم او عام ګس برابر نۀ وي ❀ هغوئي ته معلومه وي چې **الله پاک** عالمانو ته د عامو خلقو پۀ مقابله کښې اوچتې درجې عطا کړې دي- څومره اوچتې؟ دومره اوچتې چې حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا فرمائي: علمائے کرام به د

1...1163 علمائے اہلسنت کے تاثرات، صفحہ:12-13 ملخصاً۔

عامو مؤمِنانو نه 700 درجې اوچت وي او د هرو دوو درجو ترمینځه به 500 کاله مزل وي[1]

❀ هغوئي ته معلومه وي چې هم دغه خلق دي څوک چې پۀ قرآن او حدیث باندې ښه پوهیږي

❀ هغوئي ته معلومه وي چې هم دغه خلق د انبیائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلَام حقیقي وارثان دي

❀ هغوئي ته معلومه ده چې د عالم فضیلت پۀ عابد باندې هم داسې دے لکه څنګه چې د خوارلسمې د سپوږمۍ فضیلت پۀ ستورو باندې دے۔

عالم کی ذات عالم انسانیت کی جاں | عالم کی ذات جوہر خلقت کی ترجماں
عالم کی ذات فہم و تفہم کا آسماں | عالم کی ذات حکمت معبود کا نشاں
حق ساز و حق شناس کو عالم کہا گیا | اسلام کی اساس کو عالم کہا گیا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## پہ اهلِ علم باندې اعتراض نه ځان ساتئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مونږ له هم پکار دي چې د علمائے کرامو ادب او احترام کوو، دوئي سره محبت کوو- پۀ دوئي باندې اعتراض کولو نه ځان ساتو ځکه چې دا حضرات د الله پاک خوښ بندګان وي. **الله پاک** په قرآنِ مجید کښې ارشاد فرمائي:

كُوْنُوْا رَبّٰنِیّٖنَ بِمَا كُنْتُمْ تُعَلِّمُوْنَ الْكِتٰبَ وَ بِمَا كُنْتُمْ تَدْرُسُوْنَ ﴿۷۹﴾

(پاره:3، سورۂ ال عمران:79)

ترجمۂ کنزُ العِرفان: الله والا جوړ شئ ځکه چې تاسو د کتاب تعلیم ورکوئ او ځکه چې تاسو پخپله هُم دا وایئ-

1...ارشاد الساری، کتاب العلم، باب فضل العلم، جلد:1، صفحہ:211۔

یعنې چې کوم خلق د **الله پاک** کتاب قرآنِ کريم ښائي او د دې درس ورکوي هغوئي رباني عالمان دي- لږ سوچ خو وکړئ چې څوک د **الله پاک** خاص بندګان وي، څوک چې د دِين وارثان وي، د هغوئي سره د محبت کولو په ځائے په هغوئي باندې تنقيد کول، خلق د هغوئي نه د لرې کولو کوشش کول او د هغوئي په شان کښې ګستاخي کول څومره لوئي جرم دے، **الله پاک** دې مونږ ته د علمائے کرامو سره محبت کول رانصيب کړي- د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروق اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: عِلم حاصل کړئ که تاسو د دې نه عاجز يئ نو د عِلم والؤ سره محبت وکړئ، که د هغوئي سره محبت نشئ کولے نو د هغوئي سره بغض او نفرت هم مهٔ کوئ- [1]

مجھ کو اے عطار سُنّی عالموں سے پیار ہے | ان شاءاللہ دونوں جہاں میں میرا بیڑا پار ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په علمائے کرامو باندې به يې دعاګانې کولې

د امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه يوه ښکلې ادا دا هم ده چې هغوئي د علمائے کرامو د محبت په وجه چې به د کومو په بارګاه کښې حاضريدلو نو په هغوئي باندې به يې خصوصي دعاګانې کولې، هغوئي په يو ځائے کښې فرمائي: د سوونو نهٔ بلکې د زرګونو علمائے کرامو دعاګانې زما سره دي-(2)

د زماني غزالي علامه سيّد احمد سعيد کاظمي شاه صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې په کومو ورځو کښې ژوندے وو- امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه چې به کله هم ملتان شريف ته تشريف وړلو نو د هغوئي په بارګاه کښې به يې ضرور حاضري کوله او د هغوئي نه به

---

1... طبقات کبریٰ، ذکر من جمع القرآن...الخ، ج ۲، ص ۲۷۳-

2...امیر اہلسنت کی دینی خدمات، صفحہ:325-

یـې ښې ډیرې دعاګانې اخستلې-[1]

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د اهلسُنَّت د دغه علمائے کرامو سره محبت صرف د **اللّٰه پاک** د رضا د پاره وو-

د حدیثِ پاک په کتاب **اَبُو داؤد شریف** کښې د مسلمانانو د دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے، رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: بے شکه د **اللّٰه پاک** ځینې بندګان دي، هغوئي نبیان هم نهٔ دي، شهیدان هم نهٔ دي (خو د هغوئي شان داسې دے چې) د قیامت په ورځ باندې به د هغوئي مقام او مرتبې ته انبیائے کرام عَلَيْهِمُ السَّلَام او شهیدان هم د فخر په نظر ګوري- عرض وکړے شو: یا رسولَ اللّٰه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! هغوئي څوک دي؟ اوئې فرمائیل: دا هٰغه خلق دي د کومو چې په خپل مینځ کښې هیڅ رشته داري هم نشته، په خپل مینځ کښې یـې د مال لین دین هم نشته، دوئي صرف او صرف په خپل مینځ کښې د **اللّٰه پاک** د رضا د پاره محبت کوونکي دي-[2]

او څوک چې صرف او صرف د **اللّٰه پاک** د رضا د پاره په خپل مینځ کښې محبت کوونکي دي، د هغوئي شان څهٔ دے؟ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د هغوئي مخونه به په نُور سره پړقیږي، په هغوئي باندې به نُور راخور وي او هغوئي به هٰغه وخت بے ویرې وي، چې کله خلق په ویره کښې وي او هغوئي به هٰغه وخت بے غمه وي، چې کله خلق غمژن وي-[3]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1...1163 علمائے اہلسنت کے تاثرات، صفحہ: 17۔

2...ابو داؤد، کتاب البیوع، باب فی الرہن، صفحه: 561، حدیث: 3527 ملتقطًا۔

3...ابو داؤد، کتاب البیوع، باب فی الرہن، صفحه: 561، حدیث: 3527۔

## د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه مَدَني ګلونه

امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د علمائے کرامو د محبت او د عزت کولو د ترغیب لړ کښې مدني ګلونه ارشاد فرمائي: ❁ زۀ د علمائے کرامو تسبیح لولم، که پۀ چا ښه لګي او که نۀ ❁ زما وصیت او نصیحت دے چې د عالمانو لمن مۀ پریږدئ، ګني بے لارې به شئ ❁ اهلسُنَّت علمائے کرام به مونږه جنَّت ته بوځي ❁ عالم ته ووایئ چې کله زمونږ نه څۀ غلطي وشي نو مونږه د غوږ نه ونیسئ او زمونږه اصلاح وکړئ ❁ اے علمائے کرامو! مونږه د خپلو ښپو نه مۀ لرې باسئ، مونږه ستاسو یو ❁ علمائے کرام او مشائخ د عوامو نه ممتاز وي، دوئي مُقتدا دي، د دوئي د خبرې اثر وي- که د دوئي سره تعلقات جوړ شي نو دوئي د دعوتِ اِسلامي پۀ دِیني کارونو کښې ډیر مددګار وي-[1]

مجھ کو اے عطار سُنّی عالِموں سے پیار ہے | اِنْ شَآءَ الله دوجہاں میں اپنا بیڑا پار ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## علمائے اہلسنّت سره د امیر اہلسنّت مَحبّت

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** څنګه چې امیر اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د علمائے اهلسنت سره محبت کوي هُم داسې علمائے اهلسنت هم امیر اهلسنت سره محبت کوي ۞حضرت شارح بخاری مفتی شریف الحق اَمجدی صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: مولانا محمد الیاس قادری دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه انتہائی خوش عقیده سُنّي، د مسلکِ اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډیر زیات پابند انسان دے ۞حضرت رئیس التحریر علامہ ارشد القادری رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې کله یو ځل عالمی مَدَنی مرکز فیضان مدینہ کراچۍ ته تشریف راوړو نو خلیفۀ امیر

1...امیر اہلسنت کی دینی خدمات، صفحہ:325-326ملتقطاً۔

اہلسنّت مولانا حاجی عبید رضا عطاری مَدَنی دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نه يـې تپوس وکړو: څویه! څه کوې؟ عرض يـې وکړو په **جامعةُ المدينه** کښې سبق وايم- هغوئي وفرمائيل: بچيه! سبق اووايه هر چا ته ستاسو د والد صاحب په شان علمِ لَدُنِّی نه عطا کیږي ۞ خليفهٔ مفتی اعظم ہند حضرت مُطیع الرحمن رضوی دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه يو ځل د عاجزئ نه ډکو جملو کښې امیر اہلسنّت سره د خپل مَحبّت اظهار کولو کښې وفرمائيل: **زه** ګنهګار او مولانا الياس قادری صاحب **ډير زيات نيک انسان** دے ۞ حضرت شمسُ الهُدیٰ مصباحی دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: که دا اووئيل شي نو مُبَالغه به نه وي چې د **فيضِ رضا** نوم دے: **عطّار** -[1]

دنیا بھر میں فضلِ ربّ سے چرچے ہیں عطّار کے
بڑے بڑے گن گاتے ہیں ان کے ستھرے کردار کے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د علمائے کرامو سره به محبت څنګه نصيب کیږي

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** مونږه د عِلم والؤ سره د محبت د فضيلت او د امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د علمائے کرامو سره د محبت په باره کښې واوريدل- يقيناً چې زمونږه ذهن به جوړ شوے وي چې د چا مونږه مريدان يو چې هغوئي د علمائے کرامو سره دومره محبت کوي نو مونږ له هم پکار دي چې د علمائے کرامو سره محبت وکړو-

اوس دا خبره ده چې دا محبت به زمونږه څنګه نصيب کیږي؟ ډيره اسانه طريقه ده!

❁ څوک چې د علمائے کرامو سره محبت کوي د هغوئي صحبت اختيار کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د علمائے کرامو سره به مو محبت نصيب شي ❁ هره هفته د هفته وارې مَدَني مذاکرې د کتلو

1...امیر اہلسنت علمائے اہلسنت کی نظر میں، صفحہ:6-12 ملتقطاً۔

پابندي وکړئ- امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس قادري دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ پهٔ مَدَني مذاکره کښې علمائے کرام او مفتیانِ کرام د ځان سره کښېنوي د کومې پهٔ لیدلو چې کتونکو ته د هغوئي د مقام او مرتبې اندازه لګي او پهٔ زړهٔ کښې د هغوئي محبت راځي ❁ د مکتبة المدینه چاپ کړے شوے کتاب: **احیاء العلوم مترجم، جلد 1** لولئ! ❁ د اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د والدِ محترم حضرت مولانا مفتي نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډیره ښکلې رساله ده: **فَضلُ العِلمِ وَالعُلَمَا** یعني د **علم فیضان او عالمان** لولئ! ❁ د عاشقانِ رسول سره پهٔ قافلو کښې سفر کوئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! که **الله پاک** وغوښتل نو د علمائے کرامو محبت او شان او عظمت به مو پهٔ زړهٔ کښې زیات شي-

**الله پاک** دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## یو څو ضروری اعلانات

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د امیرِ اہلسنت مولانا محمد الیاس قادری دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ په سیرتِ مبارکه باندې مشتملې دوه ډیرې ښکلې رسالے د **مکتبةُالمدینه** له طرف شائع شوې دي.(1): **تعارف امیر اہلسنّت؛- (2): فیضانِ امیر اہلسنّت-**

دا دواړه رسالے **60 روپۍ او / 45روپۍ** باندې قیمتاً د مکتبةُالمدینه د کومې ځانګې نه حاصلولے شئ. ځپله هُم د دې رسالو مطالعه وکړئ! او نورو ته هُم د دې ترغیب ورکړئ! **الله** پاک دې مونږ ته د امیرِ اہلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ برکتونه راعطا کړي. آمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَآلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد